# مذهبي توندلاري د پنجاب او ایران د یرغل غشي !

مذهبي توندلارې او سخت دریځه اوس هم  د پخوا پشان ، افغانستان کې د
ایران او پنجاب د ګټو او موخو لپاره کارېږي . نوموړو هیوادو له دغو ډلو
څخه په اتیا او نوي لسیځو کې د افغانستان په ورانۍ او بربادۍ کې پوره ګټه
واخیسته . له هغه ځایه چې دا ډلې ملي او ولسپاله تګلار نلري او د افغانانو ملي
ارزښتونو ، ګټو او ارمانونو ته ژمن نه دي تل د سیمې او لرې پرتو  هیوادونو د
ګټو لپاره د یوې وسیلې پتوګه استعمالیږي !

دوی چې ولس کې د شپو ځای نلري ، د پردیو د کوټک او ټوپک په زور
ولسونه یرغمل نیسي . د ولسي وګړو په وژنې ، ډارونې او د وحشت او
بربریت په خپرولو سره غواړي ولس کې ځای پیداکړي .

د خیبر درې په دواړو غاړو ، لروبر او لوی افغانستان کې مذهبي توندلارې او
سخت دریځه د هیڅ قوم او سمت د استازیتوب دعوه نه شي کولای .په تېرو
ټاکنو کې په لره پښتونخوا کې تولو میشتو مذهبي سخت دریځو وبایلله او ټاکنو
کې د پښتونخوا ملتپالو ګوندونو او استازو وګټله . هلته هم توندلارې د ولسونو د
ارادې او ګټو ساتندوی نه دي . افغانستان کې هم ټاکنې اسلامي جمعیت او نورو
سخت دریځو وبایللې ، د ملاعمر او د ګلبدین سخت دریځو ټاکنو کې برخه وانه
خیسته او په پایله کې ټاکنې د کرزي په مشرۍ نسبتآ منځلاروځواکونو وګټلې .

اوس ددې ټاکنو پایله یوخوا په جمعیت او نظارشورا کې د مذهبي او
سیکټاریستي سخت دریځو او بلخوا د ملاعمر او ګلبدین مذهبي توندلارو تر
سخت فشار او دباو لاندې دی . نظارشورا او جمعیت دولت له دننه خوري ،
هغه سبوتاژ کوي او غواړي د غښتلي او پیاوړي مرکزي دولت مخه ونیسي .
همدارنګه دوی هڅه کوي د کابل د اداري ، پوځي او اقتصادي دریځ  په مقابل
کې مزار د داسې دریځ خاوند کړي او په اوږدمهال کې افغانستان د سیمې د
ځینو  هیوادولکه ایران او تاجیکستان د ګټو قرباني کړي . په روستیو کې رباني

چې د مذهبي سخت دريځو تر منځ په سيالۍ کې په مذهبي غشو سوری شو، د دوی لخوا د همداسې موخو په نيت ، يو وړ لاربنود ګڼل کېده .

ببځايه نه ده چې امرالله او عبدالله اوس له دې مرګه د حضرت عثمان کميس جوړوی او د رباني په بېلتون ژاړي او ګريوانونه څيروی !

« برهان الدين رباني يکي از شخصيت هاي برجسته و شناخته شده اي بود که به اجلاس بيداري اسلامي در تهران دعوت شده و در اين اجلاس مخصوصا به دليل جايگاه و سابقه اسلامي و مبارزاتي خود حضور چشمگير و موثري داشت . اجلاس ، بيداري اسلامي را پيش روي ملت هاي مسلمان گشوده است »

ايران سره د اسلامۍ ورورۍ تر چتر لاندې او ددې ورورۍ په مرسته رباني او پلويانو يي غوښتل چې افغانستان او سيمه کې د پښتنو دريځ په نښه کړي ، پښتانه ځنګ ته کړي او پر ځای يي داسې واکمني رامنځته کړي چې په لويه کې د ايران د اخوندانو په شپول کې وي ، رباني او پلويان يي يوازې د ايالتي واکمنۍ استازي وي . پوښتنه دا ده که اسلامي جمعيت او نظارشورا چې د جمعيت پوځي برخه ده د داسې موخو لپاره نه وي رامنځته شوی ، افغانستان کې د شريعت او اسلام چې سيمه کې ساری نلري څه نيمګړتيا ده چې ايران يي په بيا رغونه او سمون کې ونډه ادا کړي ؟ د ايران لخوا داسې رغول شوی اسلام د افغانانو کوم درد ته دوا کېدای شي ؟ خو هلته د اسلام په نوم د **بيا ويښتيا** سندره دا ځل د فارسي ژبي دولتونو د حوزې ، د لوی ايرانيستان او شيعه ای فاشيزم د لړۍ د ادامې بله بڼه ده چې افغانستان کې ددې ويښتيا لپاره د رباني او د هغه د پلويانو هڅونه د يادو شويو موخو لپاره ترسره کيږي .

خو بلخوا که جمعيت او نظارشورا له نورو اړخونو وڅيړل شي خبره نوره هم پيچلې کيږي . په ليږديځ ۵۰ کلونو کې اسلامي جمعيت په پاکستان کې غښتلی اوغوښن کيږي او د پنجاب لخوا د ټوپک او کوټک په مټ افغانستان کې د سوچه اسلام د خپراوي په نوم هڅول کيږي . دوی هغه مهال د سردار محمد داوودخان دولت تر يرغل لاندې نيسي او له دې لورې د افغانانو ملي ګټې په نښه کوي او د پنجاب په اشاره پر کابل د افغانانو د واکمنۍ پر ضد کاريږي .

په ۹۰ ومه زیږدیځ لسمه کې بیا هم د افغانستان لپاره د دوکتور نجیب الله او ملګرو ملتو د سولې تګلاره شنډوي او افغانستان کورنۍ جګړې ته ټېل وهي .

که په لنډه توګه ووایو اسلامي جمعیت او نظارشورا د ایران او هم د پنجاب له لورې د اسلام تر پردې لاندې ، د افغاني واکمنۍ پر وړاندې لوبول شوې او په دواړو سنګرونو کې اوس هم لوبول کیږي .

خو د مذهبي توندلارو نورې ډلې د ملاعمر او ګلبدین په مشرتوب هم ، د افغاني ګټو پرځای د پنجاب او د توندلارې پان اسلامیزم ګټو ته ژمن ګڼل کیږي . دوی په کابل د داسې یوې واکمنۍ مخه نیسي چې هغه د افغانانو ملي ګټو ته ژمنه وي . دوی نه غواړي پر کابل داسې واکمني وچلیږي چې هغه افغانان له پېړیو پېړیو روسته والې څخه وژغوري ، د نړۍ د پرمختګ او تمدن له کاروان سره یې همغږي کړي . یا افغانان د ایران او پنجاب له چلوټو څخه وساتي .

دا ډلې ، جمعیت او نظارشورا یوازې په تاکتیکونو کې توپیر لري ، که نه په لرۍ موخو او تګلارو کې سره ګډ او یوشان مذهبي توندلاري او سخت دریځه دي . یوازیني توپیر چې جمعیت او نظارشورا یې له دوی څخه لري هغه مذهبي توندلارۍ سره سره ، خپلو سیکټایستي موخو ته ژمنتیا ده. یانې جمعیت او نظارشورا غواړي سیکټاریستي موخې په مذهبي توندلارۍ او سخت دریځۍ سره ترلاسه کړي . په همدې لامل پنجاب او ایران ته په لکۍ وهلو او خوش خدمتۍ سره هڅه کوي د هغوی ملاتړ او پاملرنه ځانته راواړوي .

خو د ګلبدین ، ملاعمر ، سیاف او حقاني توندلاري بیا ټینګار کوی چې سوچه او اصیل سخت دریځي یوازې دوی دي او په توندلارتوب کې بل څوک د ځان سیال نه شمېرې . دوی د ملي ګټو په قصه کې نه دي . دوی د اسلام تر چتر لاندې چمتو دي ټول افغانستان په پنجاب او یا په کوم بل تش په نوم اسلامي هیواد او یا ډلې وپلوري . دوی د پان اسلامیزم په نوم پنجاب ، عربستان او یا کوم بل هیواد سره د افغانستان پوله په رسمیت نه پیژني ! دوی ته د افغانستان او افغانانو ګټې پوچې خبرې دي . د دوی په تګلارو کې د ملت او ملي ګټو ، افغانیت او افغاني ګټو په نوم څه نه ځاییږي . د کابل حکومت پر وړاندې د

دوی جګړه د افغانانو د ملي ګټو لپاره نه ده بلکې د پنجاب او نورو په خوله غواړي افغانان له یوې ملي واکمنۍ څخه بې برخې وي . که نظارشورا او جمعیت په کور دننه ، دولت سبوتاژ کوي او پښنو لګېدو ته یي نه پرېږدي ، دوی له بهر څخه افغانستان کې مرکزي حکومت په **پنجابي او چینایي غشو** ولي ، جوړېدو او پیاوړتیا ته یي نه پرېږدي .

ترڅو چې د یادشویو مذهبي توندلارو په وړاندې ، د منځلارو ځواکونو یو پراخ ملي غورځنګ جوړ نه شي او په سیاست کې دا ډلې ګوښه نشي ، افغانستان به د پنجاب او ایران له ګواښونو او تیري سره مخ وي او په کور دننه به افغانستان هیڅ لاسته راوړنه ونه لري !

کېدای شي ځیني شنونکي نیوکه وکړی په داسې حالاتو کې چې افغانستان د پنجاب د مخامخ پوځی یرغل لاندې دی ، هیواد کې دننه د مذهبي توندلارو او ملیپالو خبره رامنځته کول ، ښایي د افغانانو یووالي چې نن سبا تر هرمهال زیات اړین دی کمزوری کړي خو که د مذهبي توندلارو په وړاندې زړه نا زړه سیاست غوره شي او پریکنده او غوځ چلند ونشي ، افغانستان به د نیستۍ ګړنګ ته ټېل وهل شي . همدا اوس چې د افغانستان پر خاوره د پنجاب یرغل دوام لري ، ددغو ډلو ټېلو څخه حتی د یو تبلیغاتي غبرګون څرک نه لېدل کیږي !

ددغو ډلو شتون افغانستان له پښنو غورځولی . ددغو ډلو په شتون کې پیاوړی مرکزی حکومت نه جوړیږي . ددغو ډلو له لاسه افغانانو ته ټولې نړیوالې مرستې هدر لاړې . ددغو ډلو شتون کې به جګړه او د هیواد ورانې ادامه لري .

کرزی چې د منځلارو او افغان ولس په مټ د واک پر ګدۍ ناست دی ، باید له ځانه چاپیر مذهبي توندلارې او سخت دریځي چې لا هم د جهاد او مقاومت لاپې وهی ، وشړي او د هغو پر ځای منځلارو ، روشنفکرانو او د ولس ریښتینو استازو ته په واک کې برخه ورکړي .

هغوی چې ځانته ملتپال او روشنفکران وايي ځانونه باید د مذهبي توندلارو له افسون څخه وژغوري او د هغو لیکې پریږدي ، کرزی وهڅوي او د هیوادپالني پر محور راټول شي .

د هیواد د ژغورون بله لار نشته .

اخځونه :

افغان ـ جرمن انلاین برېښناپاڼه

د ۲۰۱۱ کال د سیپټمبر ۲۷ مه

سرلوڅ مرادزی